ته رحم راسه عنایت کړه — بزم تود د محبت کړه

سر د ملو خوند د ک جام کړه — د یارانو ای انجام کړه

چه سور بزم ستې تو دی — در ته الو غوږ وسرود دی

د جهان ویر وغم هیر کا — یو دم بند په عشرت تیر کا

په په مخ کی مو بلیتون دی — د جهان سبا یون دی

د ز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د الله تعالی پر رحم تو مرد دوست محمد کاکړ علیه الرحمه          د بابر خان زوی و چه د
کاکړ بابا د زیارت د پاره پکال سنه ۹۱۲ هجری ولاړ هرات ته او بیا چه راغی بیا ورته
پکال سنه ۹۲۹ هجری ی یو کتاب پښتو نظم کړ چه نوم ی دی غرغښت نامه دا کتاب
چه ما ولیدی شیرین بیتونه په مثنوی لری او د غرغښت بابا قدس الله سره الکریم
حکایات دی او د پښتنو خلقو روایات راجمع کړی دی دغه کتاب زما پلار
په لوه کښی پیدا لی و او زه هم به کرهول کښ هوکو چنیوا او زیو په سبق لوست
دوست محمد علیه الرحمه چخیل کتاب کښلی دی چه زما پلار بابر خان هم یو کتاب مشجر
کښلی و چه نوم ی و تذکرهٔ غرغښت هغه وقت چه بابر خان وفات سو او
زه پرکور نه وم نو هغه کتاب ورک سوی و او بیا ضایع کړی زه چه را غلم
د خپل پلار په ماتم سی ډیر خفه سوم لکه چه کتاب ورک و ما خو د هغه کتاب
خبری اوریدلی او په وارو وارو ویلی وی او هم می یو څه له هغو تحفه پیاده وی
نو ما پر خدای توکل وکا او هغه قصی او روایات می بیا په شعر وویل خدای
تعالی جل شانه دی زما پلار سعی مشکوره کا          سی وا یی کښو نکی د دی
کتاب عفی الله عنه چه ما د غرغښت نامی تحفه دغه حکایت را نقل کړی دی

## حکایت له عنبت نامي

له نیکانو روایت دی — هسې تو لګه حکایت دی
نور محمد کاکړ راوی دی — چه ئې فیض تل جاري دی
د نیکو نو له خولې وایي — چه عنبت ئې را ته ښایي
چه کاکړ یو نیک زاهد و — لوی ښځنتن له تل عابد و
تل تر تله سي عبادت کا — پر دي لیارې ریاضت کا
شپې ئې ردې په لمانځه وی — په ژړا و په نادو وی
نه ئې خوب نه ئې خوراک و — عبادت ئې ژوند و زواک و
چه به کښېنوست په لمانځه — یا به کښېنوست په ستاینه
ورځ ئې توله په قعده وه — شپه ئې هم یوه سجده وه
تل ئې سیر د لاهوت کا — په یوه ګوله ئې قوت کا
غرق به تل په ذکر الله و — هر سبا او هر بیګاه و
یو د شپې ئې عبادت کا — پر ګناه ئې ندامت کا

سترو

(c) ketabton.com: The Digital Library



منزګې پښتې سوی لړ څوبه — په شپو شپوی وو بیستر

هیڅ خوب ی و لید ګرانه — په غرعښت ښېې ښهانه

وايي ای کاکړه وبه — لتا خوښ یمه ښکلې یه

ستا قدم زما پر سر دی — ماسوا کښې دی قرار دی

پښه وورځ دده لما نخنه — د شپنیو عبادت کړنه

وی پاته لتا نور دی — شپې او ورځې د پکور دی

څه جهاد ډېره پر تا فرض دی — دایم ستا د غاړې قرض دی

یوه ورځ جهاد افضل — تر ملو کلو لما نخل

څوک چې تل لمنځ وروژه کا — په جهاد به ی پوره کا

طمع ی شره د دین همدا دی — بیا خدمت د خلق اهد دی

لتا پاته د دواړه د نیه — ځان خبر کړه بند ند د نیه

توره واخله مجاهد شه — د لوی خدای د دین قاصد شه

د خدای نور پر جهان خور کړه — دا خدمت ی پخان پور کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه د بشر عباد ت سی | ځان د خلاص له معصیت کی
چه له خوبه ویښ کاکړ سو | د غزا پر خوا تومړ سو
زغنده خول ی آراسته کړل | د غزا عشقی تیره کړل
هرات خواته په تلو تلو سو | د سلطان غیاث لملو سو
ویکړه هوری جهاد ون | د سلطان مل شو پهلون
څو هوری تر دنیا تیر سو | د غازیانو پتول شمیر سو
چه ی هلته هم وفات سو | نبغ پیخاور و د هرات سو

میره هسی ژوندون کا ندی
مری د خدای پر رضا باندی

ذکر د محبوب سبحان عبدالرحمان علیه الرحمه — محمد رسول هوتک علیه الرحمه

محمد بیاض کښ هسی کښلی دی چه عبدالرحمان بابا په قوم مهمند و او په پیښوری ژوندون کا پلار ی عبدالستار نومیدی او په بهادر کلی ی دیره وه عبدالرحمان بابا په سنه ۱۰۴۲ هجری پیدا سو او له ملا محمد یوسف یوسفزی څخه ی لوست

وکا او له هغه ئې فقه او تصوف زده کړل او بیا ولاړ کوهاټ ته هلته ئې هم
سبقونه ولوستل او بیا عالم شو په ځوانئ ئې دنیا پرېښوله او اکثر به په غرو گرزیدی
او کله به ولاړ د هندوستان په خوا او د خدای عبادت به ئې کاوه د دنیا په کاروبه نه
مشغول کیدی عبدالرحمن بابا یو عالم رباني او عابد سړی و او ډیر شرونه ئې د خدای تعالی
مل جوله په محبت کښې دویل او په پښتو کښې په رحمان بابا مشهور شو په ۱۱۱۸ سنه هجری
وفات شو خلق ئې تر اوس د پېښور په هدیره کښې زیارتونه کا او دده شعرونه لولي
د رحمان بابا د بیتو او غزلو دیوان ستر او ډیر ډیر پیدا کیږي هسې وائي فقیر محمد
هوتک عفا الله د څو به چه ظل الله پادشاه جهان شاه حسين کاتبان واستول او
له پېښوری د عبدالرحمن بابا علیه الرحمه د دیوان نقلونه راوړل او په قندهار
کښې علما او زاهدو وکتل او اوس ډیر دی فقرا او د خدای دوستان د عبدالرحمن بابا
شعرونه ډیر لولي او خوښوي او عام خلق فالونه پرې گوري حتی چه پنځمه هم دا
کتاب ډیر وائي او خدای تعالی دده په دنیا کښې هسې برکت ایښی دی چه د هر څوک
زړه دار وي کا او هر غریب او محتاج مستغنی کا زما پلار هسې نقل کا چه په
قندهار کښې د رافضی گرگین خان جور ستم تر حد تیری وکا او خلق د خدای هسې څني

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه داب سول چه سپرگ خو بس سول نو دوی په کوکران کښې مغفور رحمانی برگزیده صمدانی حاجی میر خان هونک سنبالم خیل ته ولاړل او له هغه دی چاره د کار طلب کړل او لټولو او ویل هر دول چه دی وینی هغه دی کړی هغه مغفور ریوه ورځ تر ما بنامه له لوړو پښتنو خانانو او مشرانو سره مصلحت وکا او هسی ئی تړون وکا چه ظالمان مړه کړی او ځانونه لجور د ظلم وژغوری په پای کښې حاجی میر خان علیه الرحمه د ویل راسی چه عبد الرحمان بابا قدس سره هم ویو پښتو چه د ده دیوان ئی خصوص کا هسی شعر وند و بیت

| | |
|---|---|
| ز د مکتب غندی په پیته خوله گویا یم | خاموشی ځما تیری کا تر غوغا ځما |
| کښت د عشق په تو ده زمکه امان چری | سمندر بوبه چه ژیست کا په اور ځما |

دغه چیتوندی ولوستل هغه مغفور حاجی اولسی ته وویل چه د ظالمانو کار تمام دی ما اوس د ستی خاموشی بهتره ده لکه به په پټه خوله داکوښښ کړو چه ظالمان رسی چه مناسب وقت راسی نو به زه پرتاسی ناغ وکړم هغه وقت باید ټول تیار ریو وظالمان له وطن و باسو نقل کا چه یوه میاشت وروسته جنت مکان حاجی میرخان د اولسی میران او خانان راوبلل او په ما نجدی جرگه وکړله او لټولو په قرآن قسم وکا چه د گرنبن خان ظالم له جوره ځانونه خلاص کړی پر دی وقت بیا حاجی

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرخان مغفور له رحمان بابا ته دا بیتونه ولیږل          بیت

په آسمان یې څوک پیتی کړی سیماب و | خدای وماوته ښکاره ډکی سعد څمر
چه رقیب راته تړلی په زنځیر و | نه ئې ځل حبیب را باندې په امانت هم بیا
په وصال یې منت بار له ما رحمان | په صدقه کړم د خپل نفسه دلو بیا

نقل کا چه د خدای په قدرت د غه ورځ پر آسمان اوریځ هم وه چه حاجی میر مرحوم
دا بیت ولوست بغدر ګړی لمر ښکاره سو اوریځ ی له ځه بسته سوه خلقو هم د غه
یو الهي مدد وکا نه او بیا تو جنت مکان حاجی میرخان خاتمه ووېل دادی د
خدای تعالی مهر او لطف هم زموږ ملګری دی اوس تو وقت دی چه توری ته تکیه
وکا بڼواوکا نو ان له د نیمن ورغوږو بغدو چه په ۲۹ د ذیقعده الحرام ۱۱۱۹
هجری اوس قتل سول او د جنت مکان حاجی میر په مرد یه قندهار ورشو قتل او
د نبمنان ی قتل مرد کړل اوس مه تو کاتب الحروف عفی الله تو به د عبدالرحمان
بابا شعرون را نقل کا

غزل

زه دا هسی دیوانه د مجنون چا کړم | له رواج له رسوم بیرون چا کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| نو بېرم چې د اچارې پېما ترک شه | لیونی د خپل شاه په افسون ځالرم |
| لا مې سترګې کوم با نه لو مد غمزه دد | دوب همیشه ننډی ټخالک بیرون ځالرم |
| نو الس توفیق نه د فتنو راتحه ندو | په فتنو د روسترګو مفتون ځالرم |

رحمان بیځ لیځیله ځانه خبر نوم

په داسې نه زبون او محزون ځالرم

ذکر د شیخ الصالح محمد صالح رحمة الله علیه سبی وایی کاتب د دې کتاب محمد چې ملا الله یار الوزی په تحفة صالح کښې لیکلي دي چې شیخ محمد صالح بقوم الکوزی وه چې ډېر کښې او سیدی او عابد او عالم و چې وقت کې پېدا سېن تیر او ه او د خلق د ارشادي کا نقل دي چې شاه بېګ خان د قندهار صوبدار شیخ محمد صالح د عوبت چې کابل ته ولا بسی او هېته حلقو ته فیض ورکړې او په تدریس د علومو طالبانو ته هدایت وما شیخ محمد صالح ورته وکښل چې مالد طمع د عزت نشته او په دنیا پېتي لګ نغواړم زما داسې مقصد دی چې دنیا ما ته راسی نه چې زه ورا وسم دنیا پسې کډ زما عزت عزاری ما پرېږده او په دنیا پسې تي مه مسافر کوه چې د عز خط در سید شاه بېګ خان ډېر وویل زما بیم ستا عزت مقصود و نه بلي عزتي سبی وایی محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ملا الله یار د خپل شیخ پنامه دیکښې کتاب چه تحفهٔ صالحي نوم دی هغه ئې کتاب کښې د خپل شیخ علیه الرحمه احوال او ځینې وینا او اشعار ئې پکښې ضبط کړي چه له تحفې نه دا غزل دی چه شاه بیګ تنړي کښلی

غزل لشیخ محمد صالح

دیلی دینی فیض هر سبا ویده یم
بیهوده منت نه ولي د نور چا ده یم

چه اشنای د شپې نا ځایه پلاس کښېوت
روغ نه ځم یکوم پیتلی پیما ده یم

هر دنیا له تېڅ ته ئې ځواک د دنیا کې
زه د عشق پیا زار و چار د عشق سودا ده یم

دیلی لیدل در ب به مهانکی
خزانې که ددي مل جهان پشا ده یم

کړ به تخت می د سلیمان ښور کړي ډېرې
عاقبت خاوره ته بنده عمل پیشوا ده یم

بیدار عشق خوشحالي په ما حرام
زه صالح که به خوله خوبنې پرته ژړا ده یم

غزل وله ایضاً رحمه الله

چه پرته ئې غنچې غوړېږي دچمنو
روغ به ئې ناسې پدا رو د ملیبا نو

چه لوړ ئې له نخه خلاص پرته رنځوروي
دا د زړه دارو بوی نکره حکیمانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر بعد چه حبیب دي هم طبیب دي | کارسازي کاد خوارانو رنځورانو
هيڅ اثر ابا ندي نکاندې عالمه | نه دوېل درو ګوهر د ناصحانو
نصيحت زړه خواږي ړه نسته لو ځړګ | زړه مې وړي په منګولو خوبرويانو

که صالح نمندي د زړه په پوهيو پاېي
نو دولت پر دنيا نسته طالبانو

ذکر د مقبول رباني علي سرور قدس سره الولي په تحفه صالحين کښې راوړي چه شيخ علي سرور شاه موخيل لودي وو چه د هندوستان پټهانانو کي ديره واو خاوند د کراماتو او خوارقو چه خلق به هر کله ځني ليدل په مخزن افغاني کښې هم نعمت الله هروي راوړي چه شيخ لوي لوي کرامات ښکاره کړل او خلق په ورګرد هيدل په تحفه صالحين کي راوړي چه شيخ بخپلو مريدانو ته هدايت کاوه او وعظ وئيل او د سوالونو ځوابونه به يې ويل او د تصوف مشکلات به يې حل کول يو ورځ يو سوال څخه وشو چه پيس ترا هر لحظه مرګی رجعتي است مصطفی فرمود دنيا ساعتي است څه مقصد لري زه وايم مرګ ورجعت کله دايم او مستمر دي او که دا مرګ و رجعت دايم او مستمر وي نو به حيات بعد الممات متعدد سي او د تناسخ نو عقيده به سي مخه عارف رباني سي جواب ورکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ذات ماسوا دی له بلنه ذات د اسما ثابت دی او بدن متحلل دی بیتی وایی
اَنتَ اَنتَ لا یبلانک فانّ مؤنک فی التحلل ولیس عنه ک منه خبر فانت وراء هذه الاشیا
دغه مرگ و رجعت بدنی دی نه ذاتی او هر کله چه تحلل وموند سابقه ذراتو لوی پر ځای دیرږی
لاحقه ذرات او همدغه تجدد دی په دنیا عدم تحقق ثابتوی او همدغه چه مصطفی علیه السلام
وویل اَلدُّنیا ساعةٌ رشتیا کوی په تحفه صالح کښ د عارف ربانی علی سرور لودی اشعار
دی په دا غزل ځنی را اخلم

## غزل لعارف الربانی

محبت پیاله می نوش کړه پیچا زکی — د حق نور وینم پسترګو د ایاز کی
درست وطن رانه دریاب شو بی دیدن — دید می منتی مګر خدای می سبب ساز کی
که زه می شم هم لګور که م سرپور تډ — ناګهان چه می دلبر پورته آواز کی
ادمی سر غوڅ د رقیب بیتېره تیغ می — هم به ځم که مې دلبر غوښت پیمهر دوناز کی
زه و یار ملا ما ناست و یوله بله — پر غماز د باری کا بنی د غم ساز کی
ګران بلبلونه به د هغو مینو وینه — چه تل ناست وی خرابات کی سره زار کی

ای سرور غمازان شوه بی حساب
پاک الله د صورت نقش بی مغز پیاز کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه خزانه په بیان د پښتو شاعرانو چه زموږ معاصرین دی غفرالله لهم

ذکر د انشای بزم آرای ملا باز توخی　　ملا باز توخی په الغر کښی اوسی او په

اصناف د اشعارو کښی استاد دی غزل او رباعی وایی او د شاعرانو ایاز دی او زما

په محمد هوتکیم همراز دی ملا چه قندهار ته راسی زموږ مجلس پیتو دوی او یاران دده

له لطافت د طبع ممنون　ملا باز مبادی د علوم و لوستی او په فقه شریف کښی تیار دی

علم منطق او حکمت لولی او خپلو شاګردانو ته دی درس ورکوی د محمد په ابتداء د ځوانی

تللی و او پښتو شان ی له استاد انو لوست کړی　　لطیفه

یو ځل ملا باز راغی او قندهار ښی زما میلمه سو دستی ما چرګ حلال کا

او طعام می تیار په دسترخوان راغی ملا باز سبی شعر وواید

## شعر

| | |
|---|---|
| چرګ لودی آی زړی | د باز برخه یو چیچی دی |
| د باز ښه رزی د مرغ تښنو | او سی ما بس په سینکی و رزی |

ما ژر جدا سپین دی هم حلال کا او د میلمه میلستیا تر می پوخ کا　دا هم له

دده د بلو څخه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدله

راسه پر څنګ راسه لیلی تر می نژدې سه لدل — بیمه نژدې چه می و نه تجي پخو به ژړه ګوی
راسه پر څنګ راسه لیلی ولی لماکړی بلیتون — د استا لعمرو زړګی دی پسر د وینو ګلګون
که هر څو تښتم نه پریږدی می ستا د عشق شوانځون — زه بخدا بیمار لعشاز ید لیږد ند پټلی
راسه پر څنګ راسه لیلی چه د پرزړه کړم مرهم — د استا په عشق کی می ترشا کا د دنیا داره غم
حساب کتاب مجالس می واړه کاتامینی برهم — لا رو رتر نسته چه د کبنیوم درو یکو کمل
راسه پر څنګ راسه لیلی چه د پرزړه کړم سوری — کجل درو اخله دواړی سترګی به نژد هم تری
لیدل به ستا د مخ کوم اندیښنی نکم سوری — پکار می نه دی ستا له مخ د جنت زیری ګل
راسه پر څنګ راسه لیلی چه سره وکړو خوالد — پرته ابن یمین بی لتا می نسته هیڅ اندیښنه

زه د غرو باز د هم تا بندی کړمه قفس کی پرشد
یو وار می خلاص که چه بیا زده کړم د وزر خیرو ل

ذکر د افضل السلاطین ظل الله فی العالمین شاه حسین لازال ظلال سلطنته من مفا
المسلمین پادشاه جمجاه ظل الله شاه حسین بن عالم خیل هوتک زوی د مغفور جنت مکان حاجی
میرخان زوی د ی چه اوس پخوا اسی کښی پادشاهی ده او پښتانه ی پیروی آیلم
پادشاه عالم پناه په ۲۳ د ربیع الاول په ۱۱۴۰ سنه هجری په پیر ری کښی د کلات

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا سو هغه وقت چه حاجی میرخان د بیت الله او د اصفهان سفر وکا پادشاه ظل الله کوچنی و
او له اعلم علما ملا یار محمد هوتک څخه ی درس ولوست او تر دوولسو کلو پوری د عمر ی
د فقه او تفسیر او منطق او د بلاغت کتب ولوستل او په قندهار کی له پلار ی مصالح
د امور نزده کړل او په جنت مکان حاجی میرخان په ۲۸ د ذیحجة الحرام سنه ۱۱۲۷
هجری په قندهار کښی وفات سو پادشاه ظل الله ثور لس کلن وا او د خپل مشر ورور شاه محمود
خان سره و میر عبدالعزیز چه د حاجی میرخان ورور و په لږ مرګ د ورور په قندهار کښی
مشر سو خو داوس رعایت ی کم کا تو په سنه ۱۱۲۹ هجری د شپی د نامرغ له قصر له
بام خطا سو او را ولوید مړ سو د خپل عم تر مرګ وروسته میر محمود په قندهار کښی
پادشاه سو او د سیستان او کرمان پر خوا ی لښکر وکا په سنه ۱۱۳۵ هجری چه د
اصفهان د ضبط د پاره د لاړ په قندهار کښی خپل ورور پادشاه ظل الله شاه حسین پادشاه
کا او د قندهار او فراه پادشاهی تر غزنی شا د حسین تر دور کړله او د لته لو غلجو ملکانو او
خانانو او مشرانو شاه حسین په خپله پادشاهی و مانه او خطبه او سکه ی په نامه مبارک
جاری سوه شاه حسین ادام الله دولته دیر زورور او مشهور پادشاه دی د رعایا
په دادرسی او د داد غوښتونکو فریاد اوری د ظالمانو لاس کوتاه دی او رعیت آرام دی

د پادشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پادشاه عالم پناه دربار کښې تر علما او صالحان لا ر لري افضل العلما ملا یار محمد هوتک
چه د پادشاه استاد دی لوی عالم دی په فقه کښې ئې کتاب مسایل ارکان خمسه کښلی
دی بل لوی عالم د دې عصر چه د پادشاه ظل الله تر ظل لاندې ژوند کا د قندهار د جامع
امام ملا محمد یونس توخی دی چه د ملا محمد اکبر فرزند دی او د علومو تدریس کا او کتاب
د جامع فرایض ئې کښلی دی په پښتو او بل عالم جامع الکمال ملا زعفران ترکی دی چه
مدار المهام او صدر الافاضل دی او د پادشاه ظل الله کین لاس دی او د محمد چه د
پادشاه زوی دی استاد هم دی ملا زعفران په حکمت او ریاضی او طب کښې استاد د
او ملا سته د زعفرانی ئې په حکمت او طب کښې کښلې ده دا کتاب ما هم لیدلی دی او مطالعه کړه
د پادشاه ظل الله شاه حسین په جنګ کښې مړنی دی او په هیوادو د ممالکو کښې ګرندی د
غلجو طوایف تر غزنی پورې د ده پادشاهی ده او په ابدالیو کې تر سیستانه او هرات
حکم کا په ۱۱۳۸ سنه هجری شاه حسین لښکر و کا او د بهادر خان په سالاری ئې
د شال او بوږ ب ولایت فتح کا او په کال ۱۱۳۹ سنه پخپله پادشاه ظل الله تر
ډیره جات فتح کړل او تر ګومل ئې ضبط کړل او س په دغو ټولو محکمو د ده سکه رو
ده او حکم ئې ساری پادشاه عالم پناه په دار ګر کښې د قندهار څنګه قصر چه نارنج باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلند ... په دې ورځ دربار کا مکتب خانه کښي او په مجلس کښي علما جمع کيږي او شعرا او فضلا ټول لوی زه محمد هوتک کاتب د دې کتاب هم پدې مجلس کې یم او پادشاه ظل الله اشعار او ابيات پښتو ... کاتب هم او کتاب د ديوان يې مرتب سوی دی کله په پښتو اشعار وايي او کله فارسي نثر هم ميل کا او کتاب ~~د ديوان~~ استاد العلما ملا يار محمد ترې قرات کا په سهو سقم يې زايل کا او د پادشاه په اشعارو کښي لږ سهو ليدل شي او علماي ټول په بلاغت او فصاحت قايل دي او سماع ته مايل هسې وايي محمد کاتب د دې کتاب په يوه ورځ د پادشاه ظل الله په قصر کښي مجلس و او فضلا او علما سره راټول ناگاه • احوال وسو چه قاصد راغلی دی او پيغام يې راوړی ... راوړی ملا زعفران د باندې ولاړ يو گړی پس بيرته مجلس ته راغی او زيري د فتح د شال او ... وب يې وکا او دا بيتونه يې عرض کړل

بيت

صين پادشاه ... نداره کوري | چې يې فتح په ... وب و شال کا
د زيري يې راوړي دی حضور ته | نو زعفران انعام پر سر زعفراني شال کا

شاه عالم پناه زر زعفراني شال ور کا او په دغه مجلس کې ټول حاضر شوي ... او پادشاه په انعام سر بلند سول هسې وايي محمد کاتب د دې کتاب چه

د

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پادشاه جهان پناه اشخاص ډیر دی او دوی د دل خوږدی د لته یو غزل مثال و م چه د
مجموعه د کلام اصول ملوک سلام خان څخه

## غزل شاه حسین دامت سلطنته

بلیاندی د غمو بیچاپو مجبور کړی هم | په تیارو کی د هجران ئی تا دور کړم
بلیاند دی هین او نبکی د خیر کا ری | تا د فکر په گرداب کښی تل عبور کړم
د فراق په ری می مبعوث و مری تد | په جهان کښی ئی رسوا که منصور کړم
په وصال دی نا هم نا با دیمدی ری | د بلیوی فکر په زړه کښی ناصبور کړم
د باغ عشق می وخوړ په حگر کښی | غمازانو په غمزو غمزو مهجور کړم

خلق یاد زما د عشق په لیونو کا
زه حسین محبت هی مشهور کړم

ذکر د شاعر شیوا بیان محمد یونس خان سپی روایت کا زما تر بور رحمت سو لک
چه په سنه ۱۱۳۰ هجری پېښور ته تللی وم د هلته می تحقیق کښ محمد یونس خان شاعر
شیوا بیان ولید او دده اشعار می سماع کړل محمد یونس په د غه کال لو پر پښت من تو د ن و
او په قوم موسی خیل و په چلارکا نور محمد خان له موسی خیو نځه د سی و با په سر د ع لم

او په پېښور کښې اوسید د محمد یونس په پېښور کښې علمونه او کتابونه ولوستل او په هغه وخت چه عبدالرحمان بابا ژوندی وو د هغه شاګرد سو او د شعر دیوان ئې جوړ کاچه ډېر ښه غزل لري. د پېښور کښې معروف سو محمد یونس مهمان دوست او کریم سړی دی مسافرین ئې ... کښې پر ډېره ... اوسي او کډ شوک عالم او ... ورکړه ګرد ورسی د ډېر قدر ئې کا او په عزت داري او میلمه نوازي کښې همت کا رحمت ... حکایت کاچه محمد یونس پخپله ډېره کښې ډېر باقدر کریم او ډېره ... ماته ویل چه یو ... شپه ... [illegible] ... حمد یو د ... زما عزت وکا او ډېره ورځ ... اشعار ... [illegible] ... دده غزل رحمت دده ددیوان ماته راوړل چه په دې کتاب کښې ... ثبت ... حمد یونس خان ژوندي او معزز ... لري

## غزل

... نه دوي پېښه باندې سر چا — کله به یا موند شیرین یا وصل د دلبر چا

... بت د شا له حسن روزي نوي — پیدا حسن بلیه شمس و قمر چا

... لید می خیل مهر رهبر نوي — را کاوه به دا دلبر د نور خبر چا

... استاد ز نفو بوي تر شام شوي — دوباره به یا دوال مشکو عنبر چا



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



پو وصال لیمی خو نا بستر کو ووری | په آسانه بیا سوند ملتر چیا
بابیسته یلی لا منځومي پکو ریښ | څو جدا لا مجنون نشي له دلبر چیا
جدایی بی حق ورته لا ګنډ پره | چه تو شلي د وصال شهد وشکر چیا

ولرم تل کار و بار یونس
مقصود ئې دی میندلی په هنر چیا

غزل ولد ایضاً الطاف اسد عکمر

شیرین یار ځما د دوا په ستر لو توری | په نور د [illegible] تورکوری
پدنیا کښې چه بنیاد د اشنایی ه | پس د جدایی په وزی پره
واویلا د عاشق له پیره سحره | لیونی عاشق وېژارند په رو کوری
که بېدرد ستا ناز زبان دکوم دی | ستا د حسن خبر ملی لور پلور دی
د محنت جوری د دروندو باندی کیښیښو | خوار عاشق تر درانه بار لاندی نسو دی
بادی بیم د شنه و ورته نرسیږی | هغه څوک چه ستا د عشق پر برق سوری
چه د عشق څراغ ی نوی بکوګل کښې | هغه په لامرده توڅوی ګوردی

زه یونس چه ستا په مینه کښې رسوا شوم
ارس پد بیارته جار واتو راند سیغوردی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## معیاته بامم پوښتنې

خو چې [illegible] سمی [illegible] دیونس خمکی [illegible] حرام شد

[illegible] سرمد [illegible] محمد گل مسعود هسی روایت کا رحمت بوتله چې په دوران

دسفو [illegible] مسعود [illegible] محمد [illegible] ویبول سو چې پر [illegible] شا [illegible] واو سر

[illegible] بدی وېلی [illegible] یوه بدله د دوغو رحمت تر بوررانغی کا چې وئدی کا

بدله

| | |
|---|---|
| چې [illegible] په [illegible] بیل شو | اور [illegible] بل شو |
| [illegible] وړی غم لمانه [illegible] بل شو | اور باندې بل شو |
| [illegible] | سوی په اور [illegible] |
| وبیته [illegible] وران مرض [illegible] شو | اور باندې بل شو |
| [illegible] بنایت د رپور [illegible] | وریت دی باور کړ [illegible] |
| داسې [illegible] تا پور [illegible] غمل شو | اور باندې بل شو |
| [illegible] خدای [illegible] محمد گل [illegible] | تاتند تل تل ژاړي |
| [illegible] پواو بیلا [illegible] الله [illegible] شو | اور باندې بل شو |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذکر شوی زمان عبدالقادر خان ختک چه د خوشحال خان ختک زوی دی نواب محمد افضل په

هسی روایت کا چه د خوشحال بابا خټک تر مرګه پس عبدالقادر خان په ۱۱۰۳ سنه هجری کابل کی

لیدل شوی و چه د خپلو د قوم مخالفانو ته راغلی او دغه روانو د تیرید لو خبری وی و بنګښ

پر خوا کولی وایی چه عبدالقادر خان مشتبلی او کرندی خان و د ختکو خانانو ی تابع و او د د

د ... په ۱۱۰۶ سنه هجری ۲۳ د جمادی الثانی واقع شوی و او سی چه د غه کتاب کوم ما ته

نه د ښکاره چه دا خان به وفات شوی وی له دی نه خو هسی ښکاری چه وفات سوی بوی خو دغه چه

او سی چا د ژوندانه تذکره نه را کړی له دی مرو ی خدای د ی و بخښی هسی وایی چه

عبدالقادر خان په هندوستان کښی هم عمر وند تیر کړه او هلته په نقشبندیه طریقت کښی د

سو متعبد او پارسا سړی و پښتانی د ... کښی اتفاق کا او له خدای سره ی ترس ها

عبدالقادر خان د شعر دیوان لری او د یوسف او زلیخا قصه ی په ۱۱۱۲ سنه هجری نظم

تصنیف نامه ی هم په پښتو کښلی او د شیخ مصلح الدین سعدی ګلستان ی په پښتو را واړه

په ۱۱۱۵ سنه ی یو بل کتاب نظم کا چه نوم ی ده ی حدیقه ختک د غه کتاب ما په ۱۱۴۰ سنه

هجری له صدرالزمان بهادر خان و ... چه د مولف په خط و بهادر خان دا ست شوی

هسی روایت کا چه په دیره ما د غه کتاب و موند چه دیو ختک ... کښی نقل کا

چه عبدالقادر خان له طریقت نقشبندی کښی خلیفه هم او د پیر خلافت ی کا او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



...شادي کا شيخ رحماني سعدي لاهوري پخپله فنت تا کلي و د عبدالقادر خان شرونه د بر
...ي نواب محمد انور د ده سلي غزلونه لکابل راوړل اوس زه دلته لحديقه ختک څخه دده
...يو څو شو وند نقل کا ندم

## غزل

دريغ لوز غمو ندليري شو لد دل
پکښي غم د خپل آشنا وي تل تل

...شبنم وصل د گل پا مونده خاموش شو
ترې محروم شوه په شور کا ندې بلبل

...بنده په زبر د قلم شو ده په مجلس کښې
شمع تا په د خپل سوز قصد وېل

...عاشق هيڅ نه دو جبر د مشق لسوز
دالنبه پرې معشوقې ولگو لې

...فانوس په پرده څراغ نه د پټيږي
کړي مخ په پلو پټ و ما ليدل

...پا ستم د پروانه په ي ځان وسو
شمع اور په تندي بل کړ گرزيدل

درستد شيد د پيار و عبد القادر کسو
قدبي عمد په پالنگ باندې تحمل

## غزل ولد ايضاً

...شد خوش د پادشاهي په تخت ختلو
هميشه ي غم کوه د پر يو تلو

...ه مي اوس کړي پيغلو ورپي ردي
غافل مشد د ديو سترگو د وتلو

...پيشدي جمشيد دل آزاره وي
د مخو محزون نوي د کتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندنی کړې په زر دوزو جامو کبر | چه غافل یې له حق د اسبابه
واخلې د سوره تاخت تالبهانې دی | چه هیڅ کوښښ نه کړې تمیزی د سو

بخه زه په عبادت در چه مرده وی

یکو کل دننه ندی د سا تلو

ومن رباعیاته

وقت د خزان و وهی لیدلی | یو څو بلبلې چه ژړی پر لې
خواری خستوی ویی ژړای | چه بې گلونو و یاسمین بې

ذکر د صدر الاکابر دوران بهادر خان ادام الله بقاه پدی دوران یقینه مشهور دی په بهادری او توریالیوالی معروف د پادشاه ظل الله ... او د بنګړ و سا د شال او نبوب کلاوی یې فتح کا او ډیری یې ضبط کا د بری سمندی یې خواتد په ... کا هغه خان اخلی او بری یې ادارول په صبر ضد دی یقینه رکنی تول خلق پیژنی او محتاجان او فقرا یې پکرم او سخاوت ماره دی د جود لاس یې زر بخش دی هر کله د غریبانو دستګیری کا پادشاه عالم پناه د شاه حسین یې په ځنګ ... کا او عوام یې په امیر الامرا یاد کا خان سالیمان په علوم کښ عالم دی او په اشعار بې نظیر شعرا او علما یې لاس د کرم پالی او هیڅکله یې مجلس له یې لطایفو خالی نه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمله بنی په دوران طاق دی او پابند نه په علما، ته حاتم دی بد لسوه راصی علماء او شعرا سیلمه کا او دوی ته بند نی وه خالق تعالی د دا کریم دوران او حاتم زمان تر ډیره تروندی، ساتی آمین یارب العالمین بسی وایی کاتب الحروف محمد هوتک غفر الله ذنوبه وستر حیوبه چه خان عالی مکان دوی کتاب د پاره لیکلو اشعار و فخر ما ته یوه بدلهٔ راکړه چه د نقدی غزت کوم چه کتاب له ذکر خیر دی حاتم زمان خالی نوی او هر څوک چه ی ولولی د عاوده

وکا سهد بدله دا ده

بدله

بېلتون د زور دی تر لیمو می سهار سم څاڅي | لکه شبنم څاڅي
دا مرو یاقوت می یلمن کښې ستا په غم څاڅي | په غم الم څاڅي
گوره لیلی باران دا وښو ستا په چم څاڅي | څنگه په چم څاڅي
راغله لیلی په شینکی خال څڅا په گلو کوی | په سرو څنگلو کوی
سهار چه وزی سیل کا باغ په بلبلو کوی | گل په اوربلو کوی
ملالی ستر گی ی کا قد په ویر ژرلو کوی | زیب په کجلو کوی
دژوبل زړه وینې په هر گړی هر دم څاڅي | لکه شبنم څاڅي
منگلی نجلی د باغ پلور محمد څڅا مه کوه | عاشق رسوا مکوه
وربیت سوی زړه می د یاسین پوری خندا مکوه | راشه جفا مکوه

رزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یم پتنګ ته یې ډیوه ما جلبلا مه کوه | نور ظلم بیا مه کوه
یم ستا له عشقه لیونی پر ما ما تم شا څي | غم او الم شا څي

ذکر د شاعر حقیق ملا محمد صدیق پوپلزی په ارغسان کې اوسی دیار محمد پوپلزی زوی دی او د دی زمانی ځوان شاعر دی په عمر درویشت کلن دی صرف و نحوی پر ملا محمد نور بریڅ ویلی دی په فقه او منطق هم پوهیږی کله چه قندهار ته راسی کاتب الحروف ی وینی او مجلس ورسره کا عشق ځوان دی او زړه یې له لاسه ایستلی پخپل محبوب لیسی ژاړی زاری کا ګریانی کا دردمن زړه لری او سترګی داوښکو ډکی لری مینی سی به او سوی دی په لکوړه کلی ورک وی سوزناکی بدلی لولی او کله چه د ډنډا نو په ډله کښینی مجلس ژړه وی او غمجن زړونه پخپلو ناره و غلبلو سوځی زمانه د د پر ځوانی افسوس ونه کا او عشق ی جنون ته رسیدلی دی بالبداهه اشعار وایی او د زړه درد په سوده کوی یوه ورځ د کاتب الحروف پلو ر کښنوا و ما ی د حال پوښتنه کوله د زړه پخوا له کښیوت ژړل ی او دا بدله ی بالبداهه وویله

بدله

لکه بلبل چه بیله ګله بل ارمان نلری | هسی بی یاره بله بیله عاشقان نلری
په ژړا کاندم بیله یاره بل مطلب نلرم | چه هسی سور بیمه یو پیو بل سبب نلری

(c) ketabton.com: The Digital Library


بې یاره تور شپه نغواړمه نور مطلب نلرم | چه څوک مین سي بې له یاره بل ارمان نلري
تر تا په ځان قربانومه دا ای نیاز منده یار | تل دي غمونه ګلومه دا ای نیاز منده یار
له سترګو اوښکي تویومه دا ای نیاز منده یار | زړه مي بې تا په یو ساعت وهمه او توان نلري
که ته مي وژني که پرېږدي اختیار خو تا ره دی | غم د بېلتانه دی بېچاره خاص ما ره دی
زړه له دراغلی دی میلمه سا بېګاره دی | د زړه لکوره څخه تنګ په هیڅ هیڅ شان نلري

ذکر د برګزیده سبحاني ملا پیر محمد میاجي

ملا پیر محمد هوتک د ملا سرور مغفور زوی دی چه ملا سرور له میا فقیر الله صاحبه څخه استفاضه کړې وه او ملا پیر محمد لخپله پلار څخه فیض وموند د علیین مکان حاجي میرخان سره پېژندګلوي ئې ملګری و چه د شاه ظل الله ورور شاه محمود ادام الله دولتهم اصفهان ته ولاړ ملا پیر محمد هم ئې ملګری و خو بخت اوله انفاس میمون ئې استفاده کا او خلق د خدای شریعت او د امام اعظم صاحب مذهب ته رابولي نقل کا چه په اصفهان کښې میاجي صاحب له روافضو سره مباحثې کا او په دلایلو علمي دوی ملامت کا لکه چه علماء روم چه وړ اصفهان کښې دي هم د ملا پیر محمد صاحب عزت کا او پیر افغان ئې لقب کا میاجي صاحب په علم اخلاق[1] کښې یو کتاب کښلی دی چه افضل الطرایق ئې نوم دی او په بهغه کتاب د عقایدو او اخلاقو بیان کا یو بل کتاب هم لرینه چه القرایض في رد الروافض ئې نوم دی چه

[1] دفن

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانی الطرائق کښې دا حکایت کښلی دی چې زه یې له هغه کتاب د لنډ مثنت کاندم چې په دې کتاب کښې یادګار وی

## حکایت

شیخ متی په خلیلی و — دی له آره لوی ولی و

یو ورځ روان په لار و — لوی شخیتن په استغفار و

ګرده ذکر د غفار — یو شپه نو اوږګار

پردی لاروی تېر د ګټی — لاری محکی وی په پټی

د ډېری شپې راغی رودار — په ی صاحب کړل په لار

یو دهقان به آبیاری کړه — شپه په شپه به یی خواری کړه

ده به لید پیتوره شپه — شیخ متی په زیارا خته

لړ اخته به بیزار و — پتو له شپه به هم بیدار و

یو وشپه راتېر لیار سو — شیخ متی ته پګفتار سو

ای د خدای رودار غه کړی — د دمره زور زحمت پرته کړی

ته باداری د ولیالو — ته قدوه د صالحانو

شناد د رخاوری سر زرد ی — د هر چا کحل البصر دی

پښتو شپوېی تر بیخواب — په زحمت په اضطراب

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکوی دلاری گمتی | پہ دی مخاوروشہ دی گمتی
داسی دوی شیخ مستی | دمولا لعشق مستی
پہ خدمت دخلق الله | یو گری پہ یوہ ساہ

تر ہر شہ بہتر دی وروره
زده کره دا خبره گوره

ذکر دشاعر خوږ گفتار الهیار افریدی عبدالعزیز کاکړ بسی روایت کا چہ دا شاعر پہ
پوری کښی اوسی اوس دتخلو ښتو کالو څخه دی دیوان دشعرلری کلام ئی شیرین دی لکه
عسل ماندی عبدالعزیز کاکړ دغه غزل را کا چہ پدی کتاب کښی ثبت سی

## غزل

چہ ستا پخیم کښی بندیوان یم راښهر بد نشتم | دیلیتون او ښی تو یو ھد بی پرہر بد نشتم
بی دی لتاړ دعشق لیجم کړه پہ زما حال ووینی | شنو ھی بی بر وند عشق دی ښی پہ بر بد نشتم
مړدی پروت یم دگدا بخیر نظر نکوی | کدمرمد یم بی بنا زیاره ستا نظر بد نشتم
او دی دمینی راندبل کاسیر بی وریت دکړ مد | ستا دوصال پہ او بو سوړ سوی ځیگر بد نشتم
کدجفا کاندی کد وفا پروت دی و در تد بید | ستا دلبار دید محت نکړم پہ بل در بد نشتم

الہیار وپاږدی پہ دلبار نظر دی غوا ئی لیلی
کدمی ہر شو رہتی شری زه پیر صدر بہ نشتم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ذکر صدر دوران بابو جان بابی** د کرم خان بابی زوی دی چه په انغز کښی او سیدی هغه وقت چه حاجی میرخان علیین مکان قندهار کښی د غلجیانو لښکر مات کا او گرگین خان ی واژه بابو جان بابی ار کلات د میرغښتلی راوستل او لا ماشوری د قندهار ښار حصار دننه او هغه وقت چه ی گرگین خان مرکا نو دی په کلات کښی د حاجی میرخان د نوا حکومت کا هسی وایی محمد کاتب الحروف چه په کال ۱۱۳۴ سنه هجری چه شاه محمود پادشاه د پادشاه دوران شاه حسین وزور لښکر وکا او اصفهان ئی د میر غلغزیمیت وکا بابو جان بابی سره د ملخیلو غښتلیو ځوانانو په دری زره تنه هوتک او توخی او ترکی او ځنی الکوخیل راغلل قندهار ته او د شاه محمود سره ولاړل اصفهان ته په جنگو کښی بابو جان بابی هسی میړانه وکا چه رستم دوران ی هیرکا بابو جان د میاجی صاحب شاگرد مرید و او په ۱۱۲۹ سنه هجری ی په مثنوی د ښها او گلان هغه قصه نظم کړه چه پښتانه ی نقل کا په مجلسو کښی دا کتاب قصص العاشقین نومیږی او سفلد ښه مثنوری په دغه کتاب کښی د عشق توصیف کا او هسی وایی

## مثنوی عشق

عشق یو هسی تو ریالی دی || چه پیر هر ځای ی بری دی
د عشق او رهسی سوزان دی || چه سوځلی ی جهان دی
زړه بی عشقه کلنړ زړه دی || چه بی عشقه زړه د مړه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندی عشق په یوه رنګ | کله صلح ګهی جنګ
پښتانه کا ندی متل | چه دی خوږ تر شات عسل
چه بی عشقه سر کړه دی | لښتی بی مغز پولاړه دی
زړه بی عشق بیکار ندی | هیم هر زړه سزاوار ندی
چه دعشق وکا خبری | کړی په خوږه داهر غړی

دیاکا لو عشق سزادی
امانت داد مولا دی

کرد افصح دوران زیدی خان مهمند زیدی خان زوی دی دغیاث خان او
دمسعود خان مهمند لمسی دی په کلی دمهمندی پناهد بالا سی غیاث خان
د بچی میرخان علیین مکان همراز او ملګری وا او زیدی خان اوس تکړه سړی او
د آشنا یانو همباز او دمساز شاعر دی دپادشاه ظل الله پیخ ګښی عزت کړی او دشوکت
او عزت خاوند دی پر آشنا یانو مهربان دی او دکاتب الحروف مخلص دی اشعار
ی خواږه دی او د بلاغت علوم سی لوستی دی پر فقه او تفسیر او صرف و نحو ګښی
هسی ښه او پوره لوست کړی چه طالبان ی حل د مشکلاتو تری کا زیدی خان په
سنه ۱۱۳۶ اصفهان ته ورلاړ او هلته ی دشاه محمود سره صحبتونه وکا بیا قندهار ته راغی
دیو کتاب ی په شرح د حال او جنګو د حاجی میرخان او شاه محمود وکښلی دا کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلور زره بیښتو نه دی لو مړی دی محمود نامه کله چه ی د پادشاه ظل الله پنځه کښې ولوست زر طلا دی صله ورکړه لد یطبع کښی ی هسی جواد بیت پروت دی په سعد صله ی پیسو څو ورځی پر یاراند او آشنا یانو نثار کړه اوریدی خان غزل او مثنوی او رباعی پنځه دیوان کښی لری او محمود نامه ی هسی خوږ کتاب دی چه اکثر پښتانه ی پیچلو کښی لولی دگرګین خان ګرجی دوژلو قصه او د اصفهان دفتوح تر تقلونه لتو لکښی ستد هسی وای محمد کاتب الحروف چه مالد ریدی خان هم درخواست دکا چه په دی کتاب کښی د محمود نامی څخه ډیره برخه ثبت کاندم ریدی خان هم ماته د کتاب یو باب راکا چه د ګرګین خان دوژلو قصه ده او هغه ما د لته د کښل ستوفیق الله تعالی

## مثنوی نقل له محمود نامه څخه دی

په بیان دوژلو دګرګین خان او مدح وصفت د حاجی میرخان علیین مکان

اوس به زه تاته حکایت کړم د بنو / خوږ روایت دګرګین خان د وژلو

چه میرخان تللی اصفهان ته وه نه / مخ ی کړی د پاک سبحان ته وه نه

پا پاچا ته عرض کړ تول اقوال د پښتون / دګرګین ظلم بد احوال د پښتون

پا پاچا وویل زه نشوای کولای چاره / دګرګین خان ظلم ستم دی یاره

کله ی معزول کړم قندهار ته پیرته دی / جور ستم او ظلم شعار ته پیرته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرگین خو گرگ دی گرگ څو ظلم کوی — وینی تو وینه هم لیوه څیری
زه هم خالیف یم چه بد تحکم گرگین — نا مسلمان دی ارمنی دی بددین
نه په اسلام کی ځان پابند گڼیږ — نه نصرانی نه له عیسی پیر بید
بیری ږم زه په خدای کړی قهر بکاره — د سلطنت بیړنا کورسی تیارت
میرخان ویل ای حسین پاچا وګوره — حال د حاکم او رعایا وګوره
ګرګ د ایله کړه پر رمه سو شبان — جور و ستم کا نوی بیحد ګرګین خان
مو په له طاقت نسته چه کړو بیا تی — صبر په ظلم د ظالم ارمنی
د اخلو رم واردی راحم سلطان — عرض د ظالم له لاسه کړم سلطان
کدیا پاچا نکړی داد خواهی د مظلوم — ظالم حاکم کا ظلم دیر په محکوم
جور چه د پیر سی سلطنت سی برباد — د ظلم قصر بیښا بی بنیاد

عوبید الملک یبقی مع الکفر ولا یبقی مع الظلم

کافر کولای سلطنت سی مدام — کد وکړیا داد نوی پاچا بر پیر انام
مګر ظالم نو نسی کړای سلطنت — خالق رحیم دی ورکوی خلافت
پاچا ته چه زړه یی وی پهره وات — د خدای عیال ګڼی پر مځکه انسان
سلطان واوره پښتی غوږ داو بیا — مکړه ستم د خلق الله بیهما پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستمګارو پای به راشي وي خراب — د ظلم اور به کا پخپله تراب

د مظلوم آه داسي کاري دي ګوره — چه اوري سخي د ظالم تکوره

ملسي به بلي کا د ظلم پکور — تو له به کاندي بينوا پدي اور

بابي ظالم په رحم د کا پخان — په ظالم خوار کړي خپل ځان او جهان

سلطان ګوره پر ځان رحم وکړه — خپل کلي کور په جور مه دوراغوره

يا چا تر هي دنيا وکړه ميرخان — خو غوبږي نه دو او ريږه وله پخان

ګرګين ي پر ليږه قندهار کي ظالم — ننځ کړ دفع لاس دده له عالم

ګرګ ي شپانه کا په کړي خوار رعيت — د ګرګ پخپل ټيري په ظلم و وحشت

ميرخان خوله بي ولاړ حجاز له په کړي — رسول د خداي ته په زاري دادخواهي

## دادخواهي د ميرخان په حضور د سيد الانس والجان

ولاړ ي د شپي ي پيغمبر ته فرياد — رسول د خداي ته په سو قوم برباد

ستا پر امت راغي د ظلم دوران — واوره رسوله د دوي قوم فغان

پښتون خو ستا پر نامه ځان کړي فدا — اي خير الناس واوره ته دي ندا

وتر غوره دوي ته د ظلم له لاسه — ګرګين ملنګ د پښتون وباسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا پیدا مدد دی کلمه کوی پښتون
نه بسی بیځکه لتاند استون

زړګ وژړوندون مو د اسلام دپاره
ستا د درباب ستا د سلام دپاره

مدد موکړه هیر خیرالوری رسول
فخر کونین نورالهدی رسول

اوښکی می څاڅی پر دربار یم ولاړ
قوم سو پاورد ظلم پتول د لتا ړ

یو ولد نظر وکړه پر مو بنه چه سو وپه
وظالمانو ته تر څو به یو پړ

ستا لطف و مهر دی شامل پر جهان
هر خراب زړه دی ستا په مهر ودان

لدستا نظره توی خراب سو پښتون
پادرد ظلم تور کباب سو پښتون

راغلم لدلیری ستا دربار ته نبی
ته می شفیع سه د خدای غفار ته نبی

په پر پښتون قوم نازل کا رحمت
کړی ی ناموس خوندی پخپل مرحمت

لاس د ظالمی لګریوا ته لنډ
ویح سی د ظلم دګند و خیرو دنډ

ستا شریعت سی تینګ منځ د پښتون
ورک سی بیداد او کم سی رنځ د پښتون

دامی دی سوال ولاړ د در ته یمه
محتاج دستی ولږ نظر ته یمه

د قوم حال کړمه درته عرض یا ادب
ته یی بادار د کل عجم او عرب

بیله تا ملری پښتون څوا لګر
ته یی ملهم د خوږ و زړو د ټپ هر

وژغوره زمو ز نام و ناموس لد بیداد
کړه بی ناموسو ظالمانو بر باد

سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر ئې د را پورته زمونږ حال وګورد | د ظالم ظلم به احوال وګورد

نه دی لتا شرم د حیا سته نبا | نه شرم کا نه ئې له عیسی ارمن

عرض مې د حال وکا وتا ته پیشوا
بل څوک مو نشته خو الګر په نیا

خوب لیدل د حاجی میرخان پیده ینه طیبه کښې او زیری د نجات له ظلمه

چه میرخان هم عرض کا حال د ظلم | هغه شپه مات سو توره د ال د ظلم

میرخان ئې خوب ولید صدیق اکبر | چه ور سره حضرت فاروق د عمر

وی ای مسکین زیری درته غم ملګره | قوم د خلاص سو کورت ماتم مکوه

ولا پیدا قوم ته د وا زیری کړه زر | چه د ظالم سو کم نقصان او ضرر

په بشوت به خدای له ظالم آزاد | نه به سی ننګه او ناموس ئی بر باد

خدای به د قوم کا پر رحم و دان | قوم به ئی ویته مجاهد پر جهان

تل به د خدای په بندګی کړوی لوی | خول به ئی نکا مر ده تلیته ور څوی

کلمه د خدای به ئی جاری یا قوا | ور کوی دوی به په دی لاره کی ساه

څوی طره وی د اسلام په ملګری | نه لبسی ورک قوم د دی قوم لښکری

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زیری او ریدل د میرخان او فتوا اخستل له علماو

له زیری په وا و رید میرویس خان پیغام
بیا ی پیدا کړل علما د حرم

خوبن سو د بیغو په پیغلی کلام
مفتی قاضی او هم پیشوا د حرم

حال ی د ظلم د ګرګین کا بیان
نو ل علما د دین فتوا ی وکړه

فتوا ی وغوښته له دوی میرخان
سمی تحریر هسی انشا ی وکړه

چه د ظالم د ظلم رفع روا
حاجی میرخان راغی وطن ته بیا کال

په تیر په وی دی له اسلام سوا
قوم ی ولیده په ظلم پایمال

په تدبیر کښیوت په ناموس وساتی
مشران ی ولیدل د قوم بیل بیلا

تنګ د قوم کا په تینګه خوندی
وده وی ئی ووی د حرم ماجرا

دعا د خوب او هم فتوا د عرب
ګرګین خبر سو چه میرخان څلوی

قوم ی کا د خان د بنو لیطلب
وی کتله چه افغان څلوی

ظلم ی دیر کا پر خوارانو د قوم
مشران ی زاوستل په صبر و په بند

خان ی کا ګرځ د غمخوارانو د قوم
منافقین ئی کړل له قوم سربند

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مصلحت د میرخان او قرآن کول د قوم او بیا وژل د گرگین خان

حاجی میرخان وکا تدبیر مصلحت
پښتانه قتول سول پنا موس او پت

مو لو قرآن وکا چه ځان کا خوندی
له جور و ظلمه د ظالم ارمنی

سیدال ناصر او بابو جان و بابی
یل بادرخان و د بادرو لمسی

میا جی هم راغی د میرخان پکومک
یوسف را قتول کړ له د سیوری هوتک

عزیز نورزی د دلارام پهلوان
گلخان بابر د بل و نور بریځ خان

راغی لفرو د الکو د حلبک
کاکړ ځوانانو د لښکرو کومک

یل یحیی خان بل ی زوی محمد خان
قتول سره یو سول چه کړی مرگ گرگین خان

یونس کاکړ وکا یرغل په گرگین
پښتنو بوره پر گرجیانو ناورین

گرگین ی مړ کا قتول گرجی سو کښتار
قوم کا خلاص ظلم و جور و غفار

قندهار و بنو حاجی میر پیهمت
قوم ی قتول کا ورتی کړ نصیحت

پر ظالم ومی او سی تو حوب سو و آزاد
خالق دی نکا پښتون قوم برباد

پایمال ظالم دی موږ یی تو لکا لښکر
نابی په وسا تو ځانونه له شر

(c) ketabton.com: The Digital Library


صفهان دک وله لښکرو د شاه — سبا به راسی پر ګوښو سپاه
نه به پښتون پریږدی پر مخ د جهان — ورک به کا نوم ننګه ښان د افغان
دښمن قوی دی راسی کی اتفاق — ځان مو چیتو کی یری کاندی نفاق
یقندهار کښی راټول کړل خانان — لټوله د قوم اختیار دار مشران
